# رضاکارانه مرستې

محترمو والدینو/پالونکو

مونږ دې ته ژمن یو چې ډاډ ترلاسه کړو چې په NSW کې هر زده کوونکی په عامه ښوونځیو کې لوړ کیفیت لرونکي عامه زده کړې ته لاسرسی ولري.

که څه هم په دولتي ښوونځیو کې تدریس باید وړیا وي، موږ ډیر مننندوی یو چې ځینې کورنۍ زموږ ښوونځي ته په رضاکارانه توګه مالي مرستې غوره کوي.

د دې مرستې سربیره، موږ ممکن له والدینو څخه وغواړو چې د کال په اوږدو کې په ځینو نورو لګښتونو کې هم ونډه واخلي. دا لګښتونه د اصلي نصاب له تحویل څخه بهر دي او ګډون د کورنیو لپاره اختیاري دی. پدې کې کیدای شي سفرونه یا غیر نصابي فعالیتونه شامل وي. تاسو ته به خبر درکړل شي که چیرې د دې توکو څخه کوم یو لګښت ولري.

که څه هم موږ د دې مرستو ډیره ستاینه کوو، هیڅوک باید د خپل ماشوم د عامه ښوونځي لپاره د مالي مرستې کولو له کبله فشار احساس نکړي.

تاسو کولی شئ په لاندې لینک کې خپله رضاکارانه مرسته وکړئ:

که تاسو د مالي ستونزو له امله د دې لګښتونو د پوره کولو توان نلری، نو ستاسو ماشوم/ماشومان به له دې څخه بې برخې نه وي. که تاسو د ښوونځي څخه مرستې ته اړتیا لری، تاسو کولی شی د خپل ښوونځي له مدیر سره د خبرو کولو له لارې په محرمانه توګه د مرستې غوښتنه وکړئ.

که تاسو نور معلومات غواړی، مهرباني وکړئ له ما سره اړیکه ونیسئ.

که تاسو د ښوونځي سره د اړیکې لپاره د ژباړونکي مرستې ته اړتیا لری، مهرباني وکړئ 450 131 شمېرې ته زنګ ووهئ. آپریټر ته هغه ژبه چې تاسو ورته اړتیا لری او د ښوونځي د تلیفون شمیره ووایاست. آپریټر به ښوونځي ته زنګ ووهي او یو ژباړونکی به په لیکه کې راولي ترڅو ستاسو سره په خبرو اترو کې مرسته وکړي. د دې خدمت لپاره به له تاسو څخه پیسې نه اخیستل کیږي.

په درنښت

مدیر